دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

الهی فرمان

او بې له شکه چې په څارویو کې هم تاسې ته یو لوی درس دی. مونږ تاسې ته دهغوی له ګېډونه د خوشایو او وینې ترمینځه خالصې شیدې درڅښو چې د څښونکو لپاره ډیرې خوندورې او آسانې تیرېږي. او په همدې توګه د خرما او انګورو له ونو نه هم تاسې نشه لرونکې او نور ښه خوراکونه جوړوئ، بې له شکه چې د عقل لرونکي قوم لپاره په دې کې لویه نښه او دلیل دی. او ستا رب د شاتو د مچی په زړه کې ورواچوله چې په غرونو، ونو او هغو لوړو او دنګو ځایونو کې چې خلک یې جوړوي ځانو ته جالې جوړې کړئ. (سورة النحل، آیت ٦٥ - ٦٨)

نبوي ارشاد

محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

تاسې رښتیا ویل پر ځان لازم وګرځوئ، ځکه رښتیا وینا انسان د نیکۍ په طرف بیایی او نیکي انسان جنت ته رسوي. کوم سړی چې هر وخت رښتیا وایي او د رښتیا ویلو عزم کوي، هغه د الله په نزد رښتونی لیکل کیږي، تاسې همیشه له دروغ ویلو نه ډډه کوئ ځکه چې دروغ انسان دګناه په لور بیایی یعنی دوزخ ته رسوي، کوم سړی چې همیشه دروغ وایي او دروغ ویل دهغه کسب ګرځیدلې وي هغه د الله په نزد لوی دروغجن لیکل کیږي. (بخاري، مسلم، ابو داود، ترمذي)

شهادت دویم کال، ۲۳ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د چنګاښ ۲ مه د۱۴۳۱ هـ ق د رجب المرجب ۱۱ مه د۲۰۱۰ م د جون ۲۳ مه

PROPERTY OF ACKU

د کانګرس رپوټ:

د امریکا پیسې تر طالبانو رسیږي

PROPERTY OF ACKU

امریکا، رسنی:
د امریکا کانګرس هغه رپوټ ارزوي، چې وایي هره اوونۍ په افغانستان کې امریکایي ځواکونه سیمه ییزه افغان امنیتي شرکتونو ته ۴ میلیون ډالر ورکوي، چې په دې سره دا پیسې د طالبانو د سیمه ییزو مشرانو تر ګوتو د رشوت په توګه رسیږي.

په دغه رپوټ کې، چې شپږ میاشتې کار وربانديې شوی، راغلي، هغه شرکتونه چې افغانستان کې بهرنیو ځواکونو ته خوراکي توکي، اوبه او نور اکمالاتي مواد لېږدوي، له امریکایي ځواکونو د اوونۍ ۴ میلیون ډالر اخلي.

دغه شرکتونه د افغانستان په بېلابېلو برخو کې بهرنیو ځواکونو ته د اکمالاتي توکو د امنیت ساتلو دنده لري.

د امریکا د پوځي اسنادو د ادعا له مخې، که چېرې دغه کاروانونه پیسې ور نه کړي، نو د بریدونو له ګواښ سره مخامخ کېږي.

رپوټ کاږي افغان هغه لارې،

پاتې ۳ مخ

سیاستمداران آلمان:

جنگ افغانستان یک اشتباه شرم آور بود

اصلاح آنلاین:
یک تعداد از سیاستمداران آلمان اعلان کردند که جنگ افغانستان یک اشتباه شرم آور بود، و نتوانست که یک هدف را هم بدست آورد.

وزیر دفاع سابق آلمان فولکر روهه در مصاحبه اش با مجله "دیر سبیغل" واضح ساخت که سربازن آلمانی باید هرچه زود تر از افغانستان خارج شوند.

فولکر روهه اضافه کرد که اشتراک آلمان در این جنگ به اساس یک تفکر غلط و خطرناک صورت گرفته است.

نامبرده که به اتحاد دیموکرات مسیحی ارتباط دارد اشاره کرد که، طالبان یک برنامه محلی

دارد، با اینکه باثبات نیست اما آنان قصد حمله بر هامبورگ، نیویارک را ندارند، او در مورد بقای عساکر هوشدار داد و گفت که این یک اشباه بزرگتر خواهد بود.

اما وزیر دفاع اسبق بیتر شتروک گفت: "حکومت هارد شرویدر که با اشتراک در حمله بر افغانستان توافق کرده بود، توقع این را نداشت که عساکرش برای سالهای متمادی در افغانستان باقی ماند."

استراتیژی مک کرستال بیکار است.

فالتر شتوتسله وکیل وزارت دفاع آلمان در آن وقت برای بار اول گفت که در آن وقت برای مخالفتش با جنگ در افغانستان دلایل خویش را ارائه کرد، و یکی از اسباب مهم استعفااش مخالفتش با این جنگ بود، او اضافه کرد که مداخله در افغانستان حالا هم یک اشتباه بزرگ است.

شتوتسله به شدت استراتیژی نیروهای خارجی در افغانستان به تک سری امریکا را انتقاد کرد، و گفت که این استراتیژی ناکام و خالی از دور اندیشی میباشد.....

بقیه در صفحه ۴

د اوباما په پټو زندانونو کې غیرانساني چلند

ټول افغان:
په دې وروستیو کې رسنیو دبګرام په هوایی اډه کې دمشهور بدنام زندان څخه علاوه دیوبل پټ توقیف ځای دموجودیت خبرداری هم ورکړ. دنړیوال سره صلیب اداري چې دڅه وخت راهیسې امریکایان په بګرام کې دنیول

شوو افغانانو نومونه ورکوي، منلې چې په بګرام کې دمشهور زندان ترڅنګ یوبله پټه بندیخانه هم شته. خو امریکایان بیا دا ډول راپوررونه چورلټ ناسم بولي.

امریکا ادعا کوي چې په بګرام کې یې دشپیتو ملیونو ډالرو په لګښت یو نوي زندان جوړ کړی دی چې دبندیانو لپاره څه اسانتیاوي هم پکښې ځای شوي دي خو د بشري حقونو د ټولنو د تازه څیړنو له مخې دبګرام په زندان کې دا مهال د ۶۰۰–۹۰۰ افغانان دطالبانو سره داړیکو درلودو په شک بندیان دي او د هر ډول قانوني برخورد څخه بې برخې دزندان دتورو تمبو شاته دنامعلوم برخلیک په غیږ کې پراته دي.

بي بي سي دبګرام دزندان څخه دخوخوشي شوو افغان بندیانوله خولې خبر ورکړ چې: دامریکایانو له خوا په هغه زندان کې ساتل شوي وو چې دتور زندان په نوم شهرت لري

پاتې ٤ مخ

امریکایي لیکوال:

امریکا د افغانستان جګړه نه شي ګټلی

امریکا، رسنی:
د افغانستان په باب په یوه نوي خپور شوي کتاب کې امریکایي لیکوال وایي امریکا باید له افغانستانه خپل ځواکونه وباسي ځکه چې دا جګړه نه شي ګټلی او پاکستان د امریکا د ګټود زیانمنولو لپاره د طالبانو ملاتړ کوي.

ژورنالیست او دافغانستان دچارو تجربه کارپوه جیري وان دیک Jere Van Dyk چې په ۲۰۰۸ کال په افغانستان کې د بند او اسارت ۴۵ وحشتناکې شپې ورځې تېرې کړې دي د افغانستان له حالاتو سره ډېر بلد دی.

د ده نوی کتاب چې: «بند، د طالبانو د اسیر په توګه زما وخت» کتاب د هینري هالټس ټایمز بوک نشراتي موسسې له لوري چاپ شوی. په دې کتاب کې لیکوال خپلې تجربې کښلې دي.

د بند شپو ورځو ده ته کافي وخت په لاس ورکړی چې په افغانستان کې د پوځي هلوځلو د لرلید په باب فکر وکړي.

وان ډیک رویټرز خبري اژانس ته وویل چې طالبان به هیڅکله ماتې ته غاړه کښېنږدي. ده همدا راز وویل چې اساساً د افغان او پاکستاني طالبانو ترمنځ هیڅ توپیر نشته ځکه چې درست پښتانه دي.

وان دیک چې په نیویارک کې اوسي د نیویارک ټایمزاو وال سټریټ ژورنال په شمول د ګڼو ورځپاڼو او خپرونو لپاره مقالې او تبصرې لیکلې دي او له ۱۹۷۰ یمې لسیزې

پاتې ٤ مخ

بریتانیې ته د ډاکټر ذاکر نایک پر ورتګ د بندیز په اړه د هغه غبرګون

هندوستان، رسنی:
دهندوستان دممبی "هیډ لاینز" چینل دپیس ټي وی دمؤسس او اسلامی نړی دمشهور پوه ډاکټر ذاکر نایک سره مرکه کړې او په هغه کې ډاکټر نایک بریتانیې ته د ده د ورتګ پر بندیز باندې خپل غبرګون ښودلی دی. ډاکټر نایک ویلې چې اسلام په لویدیځه نړی کې په خورا سرعت سره خپریږي او پیس ټي وي په نړۍ کې په لسګونو ملیونه مسلمانان او غیر مسلمانان ګوري او هغه پر لیدونکو مثبته اغیزه کوي نو ځکه بریتانیوئ حکومت د دې غیر سیاسي عمل په وړاندې سیاسي غبرګون مخته بیایی. ده زیاته کړه چې بریتانیوي چارواکی زما د بیان د متن څخه د یوې جملې یوه کوچنی ټوټه را اخیستې او هغه یې پر غلطه سند ګرځولی او زما پر ویزه یې بندیز لګولی دی.

ده وویل چې اوس په بریتانیه کې تکړه وکیلان دا قضیه مخته وړی تر څو هلته زما پر ورتګ بندیز پای ته ورسیږي.

مؤسسهٔ راند: پاکستان هنوز هم از حمایت شورشیان دست نه برداشته است

امریکا، رسانه ها:
یک بررسی تازه نشان میدهد که پاکستان هنوز هم تلاش ها برای حمایت از شورشیان را ترک نکرده است.

موسسه تحقیقاتی راند گزارش داده که روابط فعلی و گذشته پاکستان با شبکه های تندروان، خطراتی را به امریکا و حکومت منتخب پاکستان ایجاد کرده است.

راند یک مؤسسه غیر دولتی تحقیقاتی است که از سوی وزارت دفاع امریکا تمویل می شود.

بر اساس گزارش این موسسه، افزایش توطه های تروریستی در امریکا با ریشه های در پاکستان، نشان دهنده

بقیه در صفحه ۴

افغانستان او پاکستان له طالبانو سره د روغې په باب خبرې کوي

امریکا، رسنی:
واشنګټن پوسټ د پاکستاني او امریکایي مقاماتو په قول راپور ورکړ چې افغانستان او پاکستان د جلال الدین حقاني د شبکې په شمول، چې په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو تر ټولو ستره دښمنه ګڼل کېږي، د افغانستان د دولت له وسله والو مخالفانو سره د سولې په باب خبرې کوي.

ورځپاڼه لیکي د پاکستان د پوځي استخباراتو مشر جنرال شجاع پاشا تېره میاشت ناڅاپه کابل ته ولاړ او له ولسمشر کرزي سره یې خبرې وکړې.

په دې خبرو کې پر زیاتې همکارۍ او د کابل او هغو مخالفانو ترمنځ د سولې په اړه خبرې وشوې چې پاکستان کې اوسي.

څو اوونۍ مخکې د پاکستان د پوځي استخباراتو مشر او د دغه هېواد د پوځ لوی درستیز جنرال اشفاق کیاني د دغو خبرو په دوام کې بیا کابل ته لاړ.

د پاکستان یوه چارواکي ویلي دي چې کابل او اسلام اباد تر اوسه کوم توافق ته نه دي رسیدلي خو له وسله والو طالبانو سره خبرې کوم مشکل کارنه دی.

واشنګټن پوسټ لیکي، چې دغه پټې او تودې خبرې په داسې حال کې ترسره کیږي، چې امریکا تر پخوا اوس د روغې جوړې خبرو ته ډېر زړه ښه کوي او له پاکستان او افغانستان یې غوښتي چې خپل منځي اړیکې ښې او بدګماني لیرې کړي، خو واشنګټن د سراج الدین حقاني ...

پاتې ٤ مخ

سرلیکنه

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د مهاجرت دا لړۍ به تر څو روانه وي؟!

تېره یکشنبه په کابل کې هم د نوری نړۍ په څېر د مهاجرینو نړۍ والـه ورځ ونمانځل شوه، په دې ورځ د افغان مهاجرینو وزارت ژمنه وکړه چې له پاکستان او ایرانه د راستنېدونکو مهاجرینو لپاره به لازمې آسانتیاوې برابروي.

الله دې وکړي چې د نړۍ د نورو مهاجرینو ترڅنګ د افغان مهاجرینو کړاوونه ختم او ژر تر ژره خپل هېواد ته ستانه شي، خو د ځمکني حقایقو په نظر کې نیولو سره نه یواځې د افغان مهاجرینو بلکې د ګردی نړۍ مهاجرینو مشکلات او کړاوونه تر هغه نشي ختمیدلی تر څو چې په دې خبره غور او څېړنه ونشي چې په نړۍ کې د مهاجرت او د خپلو هېوادونو د پرېښودلو بنسټیز لاملونه څه دي؟ هغه کوم عوامل دي چې انسانان د خپلو ټاټوبو پرېښودلو ته اړ کېږي او په نورو هېوادو کې له کړاوونو ډک د کډوالۍ ژوند تېرولو ته تن ږدي؟ لکه څنګه چې د تبر کلوز، شیري، فلج، ملاریا او ددوی په څېر د نورو ناروغیو بنسټیز درملنې او دهغوی د استیصال لپاره هلې ځلې پکار آچول شوي او لدې لارې ددغو ناروغیو اساسي درملنه شویده، همداسې د هجرت او د خپلو هېوادو د پرېښودلو هغه عوامل هم باید له منځه یووړل شي چې ګرده نړۍ یې له دومره لوی ناورین سره مخامخه کړې ده. د ټولې نړۍ انسانان په دې حقیقت ښه پوهېږي چې د هجرت ستر لامل هغه جنګونه دي چې ظالمو او یرغلګرو هېوادونو د یرغل او انسان وژنې پالیسۍ له کبله لګونه وګړي د خپلو ځانونو خوندي ساتلو په موخه نورو هېوادو ته هجرت کوي. که څه هم په داسې حالاتو کې له مهاجرو سره مرسته او دهغوی لاس نیوې پخپل ځای ښه اقدام دی مګر دا کار د مهاجرینو هغه مشکل او کړاو نشي ختمولې چې له اوږدی مودې ورسره لاس او ګرېوان دي. نو ځکه د ملګرو ملتو اداري او ټول مهذبې نړۍ ته پکار دي چې ددې ترڅنګ خپل بشپړه پاملرنه د مهاجرت د لاملونو د ختمولو لپاره وقف، او داسې قانون جوړ کړي چې یو هېواد پر بل هېواد د جنګونو د تپلو او پر هغه د یرغل کولو جرئت ونکړي. له بده مرغه د پخوا راهیسې د ظلم او بربیت په وړاندې د بند جوړولو هڅه نه ده شوی، هر ظالم او تېرې کوونکي له څه خنډه او خنډه کولي شي یو هېواد تر خپل یرغل لاندې راولي او په څو ورځو کې د خپلو پرمختللیو وسلو په زور په کنډواله بدله کړي. څرګنده خبره ده چې تر څو پورې د یرغلونو دغه ظالمانه لړۍ روانه وي د هجرتونو او کډوالۍ زړه بوګنوونکی سلسله به هم روانه وي. جنګ پخپل ځای یوه لویه تباهي ده چې بشر ورسره مخامخ دی، خو د جنګ څخه هجرت کوونکو مهاجرینو کړاوونه هم څه کم نه دي چې له نظره وغورځول شي، دا د نړۍ لپاره هغه سرخوګی دی چې لدینه د خلاصون لاره پیدا کول خورا اړین او مهم کار دی.

که چېرته د نړۍ لوی ستر پوځي ځواکونه او ملګرو ملتو اداره غواړي چې په ګرده نړۍ کې د مهاجرت زړه بوګنوونکی کړاوونه له منځه لاړ شي او هر څوک پخپلو هېوادو کې د امن ژوند تیر کړي نو ددې منطقي لاره داده چې دوی د خپلو کړنو او ظالمانه پالیسو څخه لاس په سر شي، د نورو وګړو د غلامولو او د خپلو باداریو د قائمولو فرعوني نشه له مغزو وباسي ټول انسانان د خپلو ځانو په څېر انسان وګڼي، دهغه د شرافت، عزت او احساساتو خیال وساتي، ددې پر ځای چې خپل مال دولت او انرژي د بل انسان د غلامولو او دهغه د استحصال لپاره مصرفوي دهغه د ښېګڼې او پخپلو پښو د ودرولو لپاره په کار واچوي، ددې پر ځای چې دهغه کور، کلي، وطن او فابریکې بمباري کوي دهغه د آبادي او خوشال ژوند د تأمین لپاره وسائل او سرمایه ولګوي. دا دوه هغه مهم کارونه دي چې د مهاجرت مخه په آسانۍ ډبولې شي. د انسان په تاریخ کې چې له کومې ورځې نه د جنګ شیطاني اوربل شوې له همغې ورځې انسانیت له یو عالم کړاوونو سره مخامخ شوې، امن او سکون یې غارت او له بدمرغۍ سره لاس او ګرېوان شوې دی.

آیا دا به ښه نه وي چې د ګردی نړۍ انسانیت او ملګرو ملتو اداره په دا واقعیت چې زموږ د ټولو کړاوونو او ناخوالو اصلي مور جنګ دی، همدغو جنګونو د تاریخ له پیل نه انسان له تباهۍ او بربادۍ سره مخامخ کړیدې، آیا دا به د بشر په ګټه نه وي چې خدای ورکړې بهترین انساني عقل په کارولو سره ټول بشریت د خپل خالق او مالک ذات ابدي قانون ته تسلیم شي او د امن هغه لاره خپله کړي چې الله تعالی ورته له لومړۍ ورځې نه خوښه کړې دی او ټول انسانیت ته خبرداری ورکړیدی چې الله جل جلاله د ځمکې په سر فساد کوونکی او د نورو په حقوقو تېرې کوونکی نه خوښوي.

که انسانیت واقعاً د بشر ستر کرامت او مرتبه چې الله تعالی ورته ورکړیده وپېژني نو له څه شک پرته د جنګونو لمبې مړې او بشریت له هر ډول کړاوونو څخه خلاصون ترلاسه کولې شي، بیا به نه څوک هجرت کولو ته اړ کېږي او نه به هم د مهاجرینو د نړیوالې ورځې د نمانځلو ضرورت مخې ته راځي، هر چېرته به امن وي او انسانیت به په آرامه فضاء کې خپل ژوند تېروي.

هېواد له مورږ قرباني غواړي

عبیدالله صافي

هر هېواد د یو ښکلي او له میوو نه ډک بڼ مثال لري د کوم بڼ د احاطې دیوالونه چې هسک او مضبوط وي او د اوږېدو ټولې لارې د خلکو پرمخ تړل شوي وي، په باغ کې دننه پیره داران بیدار او تیارسی ولاړ وي نو د باندې نه هیڅوک نه شي کولی چې بڼ ته دننه، او له ونو میوې وشوکوي. تل له پاره دهغه بڼ میوې تالا شوې چې یا دیوالونه نه لري او یا هم ساتوونکی یې نشته، یا ساتوونکی یې شته خو بڼ ته دننه کېدونکو غلو ته څه نه وایي. یا دا چې دیوالونه یې هم شته او څوکیداران ورته هم ناست دي مګر په لاس کې هغه ضروري وسله او تاکتیک له ځانه سره نه لري چې له دباندی څخه د داخلېدونکو مقابله وکړي او مخه یې ونیسي.

څرګنده خبره ده چې کوم خلک له دغو پورتنیو مواصفاتو څخه محروم وي هغوی نشي کولی چې د خپل بڼ میوې د غلو او داړه مارانو له غلا څخه وژغوري، آن ددې امکان هم شته چې څوک وربانـدې قبضه ولګوي او خپل یې کړي. ددې برعکس هر چا چې خپل هېواد په خپلو وینو خړوبه کړی ټول عمر د یوې شیبې لپاره هم د خپلې خاورې له دفاع نه، نه دي غافل شوي هغوی خپل استقلال ساتلی دی، هر چا چې غفلت کړې نو دهغوی پر هېواد یرغل شوی خپل استقلال یې له لاسه ورکړي، د بل چا غلامان شوي او ټوله شتمنی یې د بل چا لاس ته ورغلې ده.

په حقیقت کې هېواد د ولس مور ده، څرنګه چې د ماشوم ژوند خواک د مور له ژوند سره تړل شوې همداسې د ولس ژوند هم د هېواد له بقاء سره تړل شوې، مور چې څومره غښتلې، صحت منه او محفوظه وي ماشوم یې همغومره غښتلې روغ رمټ او سالم روزل کېږي. که مورږ غواړو چې زموږ د هېواد سرحدونه دی د دښمن په وړاندې د تل لپاره اوسپنیز دیوال وي زموږ مادي او معنوي شتمني محفوظ وي، د ژوند په هر ډګر کې خود کفا شو، د بل چا په وړاندې د ګدایي کچکول ونه ګرځوو، خپل عزت او آبرو وساتو، په هسکه غاړه او نیغه شمله وګرځو د خپلو سیالانو په سترګو کې سترګې واچوو او په هر ډګر کې د خپلو حقوقو دفاع وکړو، په پردیو هېوادو کې د ذلت او خوارۍ شپې تېرې نکړو نو پر مورږ قطعي فرض دی چې د خپلې خاورې او هېواد ارزښت وپېژنو د خپلو وینو په قیمت یې ساتنه وکړو، خپل سر او مال ترېنه ځار کړو، خپل ټول ځواک او قابلیت ددې د خدمت لپاره وقف کړو. د خپل هېواد د سلامتیا او غښتلتیا لپاره پخپلو کې یو موټې شو، خپل ټول له ځانه جوړ شوي اختلافات شاته او د پردیو لاسونه له خپل ګرېوانه لرې کړو، د خپلو ذاتي ګټو په خاطر د بل چا له د لاس آله ونه ګرځو، هېچاته دا اجازه ورنکړو چې زموږ په هېواد کې د خپل هوس او غرض آسونه وځغلوي، زموږ هېواد د پردو د ګټو لپاره د رقابت ډګر وګرځوي دهغوی د ګټو جنګ د افغانستان په خاوره کې پرمخ لاړ شي او مورږ د بل چا د ګټو د قرباني ګډوري وګرځو.

که مورږ لږ غوندی هم پخپل ګرېوان کې سرښکته کړو او د خپلې خاورې اهمیت وڅېړو نو زموږ ضمیر به قانع شي چې د افغانستان هېواد د نړۍ له ډېرو هېوادو څخه ښکلې، سرسبز او له هر ډول قیمتي ذخائرو څخه ډک دی، داسې نعمت نشته چې الله تعالی د افغانستان خاوری ته نه وي ورکړې. خو ډېر افسوس چې مورږ د خپلې خاوری قدر او قیمت ونه پېژند د الله تعالی شکر مو ادا نکړ.

زموږ هېواد له خپلو اوسېدونکو سره کلکه مینه لري څکه خو د تاریخ په هر پړاو کې د دښمن ناپاک قدمونه پخپل ګېډه نه دي زغملي او د هر اشغالګر ناپاک عزائم یې ناکام کړیدي.

مورږ ولیدل چې زموږ خپلمنځي اختلافات، کفر او ارتداد له بدمرغي، افلاس، هلاکت، ذلت او فلاکت نه پرته بل څه نه دي راکړي. له دې پرته مو بل هېڅ نه دي ترلاسه کړي چې زموږ د هېواد دښمنانو ته زموږ د خاورې اشغال جرئت ور په برخه کړي او زموږ مادي او معنوي شتمنې لوټ کړي مورږ بې عزته او بې آبرو کړي، زموږ جیبونه تلاشي او پرمخ څپېړې راکړي، پر ځمکه مو څملوي او په ګېډه مو وخېژي، زموږ د عزت پګړی پر ځمکه وغورځوي، زموږ پټ منې خوېندې، مېندې بې پتې کړي، زموږ ځوان ورتې وځوروي او په جیلونو کې واچوي بزدل یې کړي او خپل رعب لاندې یې راولي.

دا ټول څکه ممکن شویدي چې مورږ د خپل هېواد او عقیدی په اړه هغه مسؤولیت نه دی ترسره کړی چې زموږ پر اوږو پروت دی.

آیا دا به ښه نه وي چې نور له دې ذلت نه د وتلو او د خپل هېواد د استحکام په خاطر خپل فرض په سمه توګه ترسره کړو، پخپلو کې یو موټي شو او له ځانه جوړ شوي له ټولو ناروا اختلافاتو نه لاس په سر شو، یقیناً په همدې کې زموږ ډېرې او پرمختګ راز نغښتل شوي او همدا کار زموږ د سر لوړی او آزاد ژوند ضمانت راکوي. د لوی الله له لوری افغانستان زموږ لپاره ستر نعمت دی که مورږ ددغه لوی نعمت شکر ادا کړ او خدمت لپاره مو ملاګانې وتړلې نو الله تعالی به پر مورږ د خپلو نورو لورینو باران هم وکړي او که مو کفران وکړ نو د الله عذاب ډېر سخت دی.

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

نړیوالو ورځپاڼو هر یو وال سټریټ ژورنال واشنګټن ټایمز او بریتانوی ټایمز په خپلو نننیو ګڼو کې د افغانستان په اړه بېلابېل مطالب او تحلیلونه خپاره کړي:

وال سټریټ ژورنال:

ولې په افغانستان کې وروستۍ لوبه دومره پیچلې کېږي، دا د وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې د مقالې عنوان دی، چې د امریکا د ولسمشر بارک اوباما څرګندونو ته په اشاره لیکي:

راتلونکی کال به له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل پیل شي، ناټو به هم بالاخره له دې هېواده ووځي او په راتلونکې کې به له طالبانو سره خبرې پیل شي.

د ورځپاڼې په وینا ناټو په اوس وخت کې د همدې وروستنۍ لوبې په پلان کار کوي، په دې مانا مخکې له دې چې له طالبانو سره خبرې پیل شي غواړي هغوی اول کمزوري او له کندهاره یې لیرې کړي.

خو وال سټریټ ژورنال په یوه مبهم ډول لیکي، چې دا روښانه نه ده چې دغه وروستۍ لوبه به په څه ډول ترسره کېږي.

ورځپاڼې په کندهار کې د پراخو پوځي عملیاتو په اړه لیکلي، چې د ملکي کسانو د ساتنې په برخه کې اندېښنو ته په پام سره ښایي دا عملیات له سږنۍ منې مخکې پیل نه شي.

واشنګټن ټایمز:

واشنګټن ټایمز ورځپاڼې لیکلي، چې په افغانستان کې جګړې ډېرې اندېښنې راپورته کړي دي.

د ورځپاڼې په وینا سره له دې چې په افغانستان کې د ناټو لوړ رتبه قوماندانانو او نورو لوړ رتبه چارواکو د دغې جګړې د پرمختګ په اړه تېره اونۍ د امریکا کانګرس ته راپور ورکړ، د امریکا د اردو په مختلفو کړیو کې د دغې جګړې د بریالیتوب په اړه شکونه پیدا شوي دي.

واشنګټن ټایمز د استخباراتي منابعو په حواله لیکلي، چې پوځي قوماندانان تراوسه په دې نه دي توانېدلي چې د کامیابۍ یو راز پیداکړي.

ورځپاڼې دا هم واضح کړې، چې بهرني پوځیان تراوسه نه دي توانېدلي چې د پښتنو قومونو مشران دې ته وهڅوي چې له طالبانو سره له خواخوږۍ لاس واخلي او د حامد کرزي له حکومت سره یوځای شي.

بریتانوی ټایمز:

که پاچا شوی، د تیلو لپاره نه بلکه د معدني فلزاتو لپاره برمه وهه، دا هغه سرلیک دی چې بریتانوي ټایمز ورځپاڼې د افغانستان په اړه د یوې مقالې لپاره غوره کړی دی.

ټایمز لومړی افغانستان د ځمکې پر سر دوزخ یادې کړې، چې له لغړوغرونو ګړنګونو ډک دی او جګړه ماران او د مخدره موادو کارو باریان په کې په فعالیت بوخت دی.

د ټایمز په وینا هیڅ شی په افغانستان کې په ښه حالت کې نه دی، خو ورځپاڼه یوه بله خبره هم کوي، د امریکا د حکومت د هغې خبرې یادونه کوي چې افغانستان یې له رنځه ډک نه بلکه له ګنجه ډک هېواد بللې دی.

د ټایمز له دې لیکنې سره سم په واشنګټن کې چارواکي وایي، چې د افغانستان تر ورانیو لاندې د معدني موادو لکه سرو او سپینو زرو، مسو، اوسپنې او داسې نورو فلزاتو شتمنۍ پټه ده، چې ارزښت یې ملیاردونه ډالرا ټکل شوی دی.

داسې فلزات چې په ډېرو پرمختللو وسایلو لکه فضایي ټیلیسکوپونو او داسې نورو شیانو کې ترې کار اخیستلای کېدای شي.

ټایمز لیکي، په داسې حال کې چې د امریکا ولسمشر بارک اوباما پراوسه تیلو ته د اتکا له ستونزې سره لاس او ګرېوان دی، په واشنګټن کې پالیسي جوړونکي جیوپولیټیکي طرحې جوړوي چې په افغانستان کې پرعجیب او غریبو فلزاتو پر اتکا کولو ټینګار کوي.

په منځني ختیځ کې سوله ګردې نړۍ ته سوله ورکولی شي

محمد خلیل

دا دی یو ځل بیا صهیونستي رژیم د ظلم، بربریت او وحشت ثبوت وړاندې، او نړیوالو ته څرګند پیغام ورکړ چې دهغه کار او کسب له بربریت او انسان وژنې پرته بل څه نه دی.

د اروپا، ترکیې، استرالیا او نورو څو هېوادو ځینو کسانو د بشر دوستی له مخې غوښتل چې د څو میاشتو راهیسې په غزه کې محاصره شوي فلسطینیانو ته چې اسرائیل وربانديې هر څه بند کړي دي. د اوبو په کښتیو کې خوراکي توکي ورسوي خو د اسرائیلي سمندري ځواکونو نه یواځې دا چې هغوی ته اجازه ورنکړه بلکې ۹ کسه ترک فعالین یې ووژل او پاتې نور یې ژوندی ونیول او په زندان کې یې واچول د صهیونستي رژیم دغه ظالمانه اقدام په ټوله نړۍ کې وغندل شو، د ملګرو ملتو اداره د اسرائیل دغه کار ظالمانه وباله خو امریکایي چارواکو د اسرائیلو ددغه ناروا عمل په خلاف هیڅ ډول څرګندونې ونکړې او ځانونه یې داسې کاږه او ناخبره واچول چې ګویا هیڅ نه دي شوي.

پکار خو دا و چې امریکایي چارواکو د اسرائیلو په دغه ظالمانه کړنه شدید عکس العمل ښودلی، او د هغوی دغه کاږ یې غندلې وای مګر له داسې کولو نه یې په کلکه ډډه وکړه، دا لومړی ځل نه دی چې امریکا د اسرائیلو په ظلم او بربریت سترګې پټوي بلکې د تېرو شپېړو لسیزو راهیسې امریکا د اسرائیلو د هر ظلم او ناروا ملاتړ کړیدې همدا لامل دی چې په اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو په زړونو کې د امریکا ددغه له انصاف نه خالي کړنی له کبله سخته کرکه پیدا شوې او د یهودانو په ظلم کې یو برابر شریک بولي. امریکا چې له لومړی ورځې نه د منځني ختیځ په کړکیچ کې کوم منفي او ظالمانه رول لوبولی دی له همغې ورځې نه مسلمانان په دې خبره متیقن شویدي چې په منځنی ختیځ کې د پردی تر شا اصلي لوبه امریکا په لاره آچولې ده، د لوبې په صحنه کې اسرائیل یې مخې ته کړی مګر د صحنی تر شا امریکا خپل اهداف پرمخ بوځي.

اسرائیلو چې د فلسطنیانو ځمکه غصبه کړې او تر غاښونو په خطرناکو وسلو سنبال دی، د فلسطنیانو د لکونو انسانانو په وینو لاسونه یې سره دي خو د امریکا په نظر له لومړی ورځی نه سپینه او بې ګناه کونتره ښکاري، مګر فلسطنیان چې د خپلې خاورې د دفاع او د مقبوضو سیمو د بیرته اخستلو لپاره له غولکی او کاڼي نه استفاده کوي د امریکا په نظر ترهګر او انسان وژونکي دي. دومره لورینه هم وربانديې هم نه لري چې د څو کلو راهیسې په غزه کې محصور شوي لکونو وږو تږو فلسطنیانو ته څوک د خوراک ځنباک توکې ورسوي. نړۍ حیرانه ده چې آخر داسې یو چاته خوراکي توکي رسول چې پخپلو سیمو کې د اسرائیلو دلاسه محصور ژوند تیروي او نشي کولی چې ځانو ته د خپل ساه د ژوندی ساتلو لپاره څه توخه پیدا کړي د خوراکي توکو رسول کومه ګناه ده چې اسرائیل یې د رسولو مخه نیسي او وژني یې؟

دغه هوښیاره امریکا چې په هر څه کې د هوښیاری دعوه کوي څنګه د اسرائیلو دغه ظالمانه اقدام ته د خپلې دفاع نوم ورکوي؟ ټوله نړۍ د اسرائیلو دغه اقدام غندي او ناروا ورته وایي مګر امریکا ته بالکل پر ځای او عادلانه کار ښکاري، نړۍ وال غوښتنه کوي چې د اسرائیلو دغه اقدام نړۍ وال عدالت ته راکش کړي او هغوی ددغې پیښې تحقیق او پلټنې وکړي مګر امریکا په ځغرده ددغې غوښتنې مخالفت کوي.

په تاریخ کې داسې ورځ او داسې شیبه څوک نشي ښودلې چې امریکا د اسرائیلو د کوم ناوړه او ظالمانه اقدام غندنه کړي وي او یا لږ تر لږه خپل بې پری توب یې ښودلې وي.

له نن نه تقریباً ۳۵ – ۴۰ کاله وړاندې د صهیونستي رژیم پوځیانو په صابره او شتیله کې زرګونه بې ګناه فلسطینیان ووژل، پر هغوی یې خوراکي توکي بندې کړې. څو میاشتې پرله پسې محاصرې په ترڅ کې زرګونه فلسطیني ماشومان، زنانه، سپین ږیرې او ځوانان مړه شول، لوږه تر دې حده ورسید، چې د انساني غوښې د خوړلو فتوه یې وغوښتله مګر د بشر دوستي د عویدارو امریکایي چارواکو د اسرائیلو ددغه ظلم او بربریت په خلاف هیڅ ډول غبرګون ونه ښود بلکې دهغوی د عکسونو په ښودلو سره په مینه ننداره یې وکړه.

امریکا چې په نړۍ کې اقتصادي او پوځي لحاظ ستر ځواک دی په بشپړ ډول کولی شي چې په منځني ختیځ کې دغه بل شوې اور په آسانی سره مړ کړي او دلته د څو لسیزو راهیسې د انسان وژنی لړۍ ته د پای ټکي کیږدي مګر تر اوسه په دې اړه هیڅ مثبت ګام یې نه دی اوچت کړی. نو ځکه په اسلامي نړۍ کې د امریکا په خلاف د کرکی پیدا کیدل یو فطري امر دی. که امریکا اصل حقیقت ته متوجه شي نو دې نتیجې ته به خامخا ورسیږي چې د خپل هیواد په خلاف په مسلمانه نړۍ کې د مسلمانو ځوانانو په زړونو کې د کرکی او نفرت نیالګي پخپله امریکا نهال کړي دي، د فلسطین کشاله او هلته د امریکا له پری نه ډکه پالیسي هغه ناسور دی چې ریښې یې تر ډېرو لېریو لېریو ځایونو پورې غځیدلي دي که له حقایقو نه سترګې پټې نکړو نو د القاعدی تنظیم هم د امریکا او د اسرائیلو د ظلم او بربریت په عکس العمل کې جوړ شویدي تر څو لدې لارې هغه دیته واداره کړي چې په فلسطین کې د اسرائیلو ملاتړ ختم او د انسان وژنې لړۍ ته د پای ټکي کیږدي. لنډه دا چې په منځنې ختیځ کې اسرائیل د هغې ګنده او له زهرو ډکی چینې مثال لري چې ویالې یې تر لېرې لېرې ځایونو غځیدلې او انسانیت مسموم کوي، که چېرته دغه د زهرو ډکه چینه بنده نکړی شي نو ددې اثرات به نور هم هلاکوونکي وي، ددې زهرجنې چینې زهریلی مکروبونه تر امریکا رسیدلې او ټوله نړۍ یې له بدامنې سره مخامخه کړیده. که خدای ناخواسته ددې د مخنیوی لپاره له همدا اوس نه عادلانه هڅې ونشي او د پخوا په څیر د زور او جبر لارې انتخاب کړی شي نو ددې عواقب به دومره وخیم وي چې شاید ډېر انسانیت د هلاکت کومې ته ورننوځي. ځکه چې ځمکنې حقایق په همدې دلالت کوي چې هره راتلونکی ورځ د بهتری پر ځای د بدترۍ پیغام له ځانه سره لري، هره ورځ جنګي تاکتیکونه پدلیږي تاوانونه او تلفات زیاتیږي مګر هیڅ مثبته نتیجه نه ترلاسه کیږي، نو ځکه د عقل او منطق غوښتنه داده چې د امریکا او اسرائیل په شمول د نړۍ ټول انسانیت د خپلې بقا او ښېګڼې په خاطر د جنګ او تېرې پر ځای د روغې جوړې او سولې پروسه پرمخ بوځي، د عدل او انصاف په فضاء کې ژوند تیر کړي، خپل ټول قابلیت او وسایل د انسانیت د خیر ښېګڼې لپاره خرج کړي، د متقابله احترام په اصولو دې خپل ژوند پرمخ بوځي، د جنګ د ترخو پر ځای دې د امن خواږه وڅکي او دغه دنیا دې پخپلو نیکو کړنو په جنت بدل کړي.

د امریکا پیسې تر طالبانو...

چې خواړه، اوبه، د سونګ توکي او وسلې لېږدوي، امنیتي شرکتونو ته په هره اوونی کې تر ۴ میلیونو امریکایي ډالره ورکوي.

ټاکل شوې ده چې د امریکا کانګرس به دغه رپوټ واوري او د ارزولو لپاره به یې ګامونه پورته کړي.

د کانګرس یوې جرګه ګۍ چې دغه رپوټ چمتو کړی، ویلي سیمه ییزه مشرانو او د پولیسو او افغان پوځ ځینو سیمه ییزه قوماندانو ته هم دا پیسې ورکول کېږي، چې اکمالاتي لاریو ته د لارې امنیت ونیسي.

دا رپوټ داسې مهال خپور شوی، چې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو مرګ ژوبله مخ پر زیاتېدو ده.

د امریکا کانګرس ته د دغه هېواد د دفاع وزارت جګپوړي چارواکي هم ورغوښتل شوي دي.

د پوځ د جنایي پلټنو په برخه کې یوه ویاند په ویرجینیا ایالت کې اسوشیټیډ پرېس خبري اژانس ته منلې چې دا پلټنې ترسره شوې دي.

ویل کېږي چې په دغو خصوصي امنیتي شرکتونو کې د افغان ولسمشر حامد کرزي خپلوان هم شته.

تېره ورځ د دغه هېواد په بېلابېلو برخو کې لس بهرني پوځیان ووژل شول، چې پنځه یې امریکایان ول.

بل خوا بریتانیا هم اعلان وکړ، چې له ۲۰۰۱ کال راېدېخوا یې په افغانستان کې د وژل شوو پوځیانو شمېر ۳۰۰ ته ورسېد.

له ۲۰۰۱ کال راهیسې پر افغانستان د امریکا په مشرۍ بریدونو کې کابو ۲۰۰۰ بهرني پوځیان وژل شوي دي.

له دې سره جوخت په افغانستان کې د بریتانیا ځانګړي استازي او جګپوړي ډیپلومات ډګرجنرال سیرشیرارډ کوپر کولز هم غواړي چې استعفا وړاندې کړي.

خو د بریتانیا د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې هغه استعفا نه، بلکې خپله رخصتي غځول غواړي.

که څه هم د خصوصي امنیتي شرکتونو لېست نه دی په ډاګه شوی، خو د وطن ریسک منجمنټ په نامه د یوه خصوصي شرکت نوم یکې راغلی دی.

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله "کامه وال"

پخوانی نوم: مهنت ډاکټر شیوشکتي سوروپ مهاراج
اسلامی نوم: اسلام الحق
پخوانی مذهب: هندو - د هېواد نوم: هندوستان

د هندوستان د یو لوی هندي عالم د اسلام منل

مهنت ډاکټر شیوشکتي سوروپ مهاراج د هندو مذهب له اوچتو علماو څخه یو دی. نوموړی د الله په لوی فضل په کال ۱۹۸۶ م د مۍ په لسمه په موتي مسجد کې له خپلې ښځې او لور سره یو ځای د اسلام په دین مشرف شو.

هغه د اله آباد او اکسفورډ په یونیورسټي کې دکتورا کړی، د شېړم پوپ پال په بلنه ډیکن کې یو لیکچر ورکړ چې په نتیجه کې ورته د عیسوی نړۍ اوچت سند ورکړی شو. یوه شپه خوب یې ولید چې محمد صلی الله علیه وسلم هغه ته وایي: پخپله هم کلمه ووایه او د خپل هېواد خلکو ته هم کلمه ورزده کړه.

نوموړي د خپل اسلام د راوړلو په اړه داسې څرګندونې کړي دي:

د الله تعالی لوی احسان دی چې ماته یې د اسلام لوی دولت په نصیب کړ نو ځکه زه خپل ځان ډېر خوش قسمت او نیکبخت ګڼم، لدې مخکې د ګمراهی په دنیا کې بهګوان وم مګر د اسلام په روښانه دنیا کې ماته انسانیت په نصیب شو.

الحمدلله زه په دولسو ژبو بشپړ مهارت لرم او په آسانی خبرې وربانديې کولی شم، یعنی انګریزي، سنکرت، ګریک، ډبرو، هندي، پراکرتک، پالي ګورمکي، مراتهي، ګجراتي، اردو، او عربري ژبې زما ښې یادی دي. هندوان اصلاً له مسلمانانو نه ویره نه لري بلکې د خپل ناقص مذهب او ناقص ایمان په وجه د اسلام له سپېڅلې دین څخه ویریږي، څرنګه چې اسلام انسانان د رنګ، نسل، ژبه، خاندان، مال او دولت د کبر او فخر له جال څخه راوباسي او یواځې د یو الله په وړاندې د بندګی کولو بلنه ورکوي نو ځکه هغوی د اسلام له قوت څخه ویریږي.

اسلام ابدي او مستحکم دین دی. د نړۍ یو ځواک هم نشي کولی چې اسلام کمزوری کړي، کیدی شي چې د ځینو د ضعیف ایمان لرونکو اعمال کمزوری کړي خو په مجموعي توګه د اسلام دین جوړې دومره مزبوتې دي چې هیڅوک یې نشي خوځولی.

یوه ورځ یو لوی هندو عالم آرهیکاري له مانه پوښتنه وکړه چې تا خو ددنیا ټول مذهبي کتابونه لوستلي دي ستا په فکر د انسانیت له پاره تر ټولو ښه مذهب کوم یو دی؟ ما ځواب ورکړ چې په ټولو ادیانو کې رښتونی او غوره دین یواځې اسلام دی، څرنګه چې زما په ذهن کې د اسلام حقانیت له پخوا نه ناست و نو ځکه په زړه کې مې هیڅ ډول ویره نه وه چې هندوان به ماته نقصان ورسوي او یا مې مړ کړي.

ما یوه شپه خوب ولید چې یو لوی لیوه زما پوسې شوی دی، زه چې له هغه منډه وهم نو هغه هم ما پسې منډه وهي او کله چې زه ودریږم نو هغه هم ودریږي زه په منډه منډه کې پر زمکه وغورځیدم، په دې وخت یو نابلد سړي زه له زمکی اوچت کړم، دهغه مخ ته مې چې وکتل نو دومره ښکلی و چې دهغه په لیدو نه مړیدم خو پیژندل مې نه چې دا څوک دی، دهغه په څنګ کې ولاړ یو تن وویل: دا محمد صلی الله علیه وسلم دی، پر ما یو عجیب کیفیت راغې، هغه صلی الله علیه وسلم زما ښي لاس پخپل ښي لاس کې ونیو او راته یې وویل کلمه ووایه، هغه صلی الله علیه وسلم د کلمې طیبې په ویلو شروع کړ ما هم ورسره دهغه په څېر کلمه طیبه تر آخره ولوسته، کله چې د کلمی طیبې له ویلو خلاص شوم نو له خپلې سینی سره یې جوخت ونیولم او راته یې وفرمایل چې اوس د خپل ملک هندوانو ته هم دغه کلمه وښایه، کله چې له خوبه ویښ شوم نو د شپې دری بجې وې، داسې خوب زما ښځی هم په همدې شپه لیدلی و، موږ په پټه لمونځونه او نور اسلامي کارونه شروع کړل او بالاخره څه موده وروسته د روژې د مبارکې میاشتې په لومړی ورځ مو ښکاره د اسلام دین قبول کړ، ددین علماو پر ما اسلام الحق، زما پر ښځې خدیجه بیګم او پر لور مې عایشه نومونه کېښودل.

زه دهغو خلکو دا خبره بالکل بیځایه ګڼم چې اسلام د توري په زور راغلی دی، په اسلام کې پخپله دا قوت او کشش موجود دی چې انسان خپل ځانته راکشوي، زه پخپله ددغې ادعا یو ژوندی ثبوت یم، پر ما نه چا جبر کړیدې او نه زبردستي، بلکې د اسلام حقانیت او قوت دیته اړ کړی یم چې مسلمان شم.

د اسلام [illegible] حقانیت پر ما دومره لوی اثر کړی و چې که زه د یو ملک پاچا هم وای ما [illegible] لپاره دا هم پرېښې و، په اسلام او مسلماني کې چې زه څومره خوشاله یم [illegible] ګردی نړۍ ټول مال او دولت هم که له ماسره وایې نو بیا به هم دومره خوشاله نه وم څومره چې په اسلام کې خوشاله یم.

زه د اریوید ک ډاکټر یم د Paramycro په سیستم د خلکو علاج کوم د الله په فضل د سرطان په څېر ډېر موذي ناروغان زما په علاج روغ رمټ شوي دي.

زه په آخره کې خپلو ټولو مسلمانو ورونو ته دا توصیه کوم چې تل لپاره د محمد صلی الله علیه وسلم د سنتو پیروي وکړي او دهغه پر نقش قدم روان شي، که چېرته مسلمانان واقعاً د محمد صلی الله علیه وسلم له سنتو نه انحراف ونکړي نو ان شاء الله د ژوند په هر ډګر کې به بریالی توب او سرلوړی ددوی پښې ښکل کړي. محمد صلی الله علیه وسلم مسلمان د سرو زرو له هغې ټوکړې سره مشابه ګڼلی دی چې په اور کې د ویلی کیدو سره کندن جوړیږي، نه په منځ کې خیره پاتې کیږي او نه دباندې بیا هغه چې هر چېرته کیښودل شي ځلایي ته کمښیږي، په بل ځای کې یې فرمایلي دي: مسلمان د شاتو د مچی په څېر دی چې ښکلو او پاکو ګلونو باندې کیني له هغو نه رس جمع کوي او شات ترینه جوړوي، هغه هم د ځان لپاره نه بلکې د نورو لپاره چې ګټه یې انسانانو ته رسیږي او دهغه په خوړلو سره د انسان صحت غښتلی کیږي، د شاتو مچی له ګلونو څخه د رس راغونډولو په خاطر څو څو کیلومتره لرې ځي او د ګلونو په کومو شاخونو چې کیني هغو ته هیڅ نقصان نه رسوي.

همدغه راز محمد صلی الله علیه وسلم د مسلمان په تعریف کې فرمایلي دي چې مسلمان هغه دی چې دهغه دلاس او ژبې څخه نور خلک په امن وي.

زه بشپړ امید لرم چې دا پیړۍ د اسلام د پرمختګ پیړۍ ده، په دې کې به اسلام ډېره وده کوي او د نړۍ لویښت لویښت زمکې ته به رسیږي. دغه مقصد ته د رسیدو لپاره ما پخپله هم په لاندې دریو نقاطو کوښښ پیل کړیدی.

۱- د اسلام دفاع او ساتنه یې
۲- مسلمانان په دنیاوي او ~~دیني~~ قدرونو په دائره کې راوستل
۳- ټولو انسانانو ته د همغوی په ژبه د اسلام دعوت ورکول.

لوی الله دې ماته او ټولو مسلمانانو ته د اسلام د خدمت او خپراوي ځواک په برخه کړي. آمین

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه

د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال

مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

اړیکو شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

انګلستان دافغانستان او عراق جګړې لپاره نږدې ۳۰ملیارده ډالره لګښت ورکوي

انګلستان، رسنی:
دافغانستان او عراق په جګړه کې دانګلستان دګډون لګښت ۳۰ ملیارده ډالروته ورسید، دا شمېره پرون دانګلستان حکومت خپره کړې ده.
دهمدې لګښت یوه برخه په افغانستان او عراق کې دبیا رغونې په چارو مصرف شوې ده. دکارګر ګوند حکومت په افغانستان کې دنظامي عملیاتو په نوم څلور ملیارده استرلینې پونډه جلا کړې و ، خو دکامیرون حکومت بیا په افغانستان کې دخپلو سرتیرو لپاره ځانګړې بودیجه منلې ده، چې ډیرې برخه به یې دماینونو دایستلو لپاره کارول کیږي.

په بادغیس کې د عشر پرسر له طالبانو سره جګړه شوې

بادغیس، رسنی:
د بادغیس ولایت په مُقر ولسوالی کې د طالبانواوعام ولس ترمنځ دعشرد راټولوپرسرنښته کې لږترلږه پنځه دیرش تنوته مرګ ژوبله اوښتې ده.
د بادغیس ولایت د اطلاعاتواوکلتوررییس سید آقا نن وویل چې د سنګ آتش په سیمه کې طالبانوغوښتل د سیمې له اوسېدونکو عشرراټول کړي خوقومي ځواکونو ورسره مخالفت وکړ.
ده وویل چې د اربکیو او طالبانو ترمنځ په نښته کې یواربکی یا قومي ځواک اودرې تنه وسله وال طالبان وژل شوي اود ښځواوماشومانوپه ګډون درې دیرش تنه نورټپیان شوي دي.
خود سیمې اوسېدونکي وایي چې په دې پېښه کې د وژل شوو اوټپیانوشمیرتر پنځوسوزیات دی.
تراوسه طالبانوپه دې اړه څه نه دي ویلي.

بریتانیوي دیپلومات په رخصتۍ ځي او که استعفا یې کړی

آزادی رادیو:
د ا په داسې حال کې ده، چې راپورونه وایي د دې دیپلومات په افغانستان کې د وسله والومخالفانو پرضد ستراتیژۍ پرسرد ناټواو امریکایي چارواکو سره اختلاف پیدا شوی او استعفا یې کړې ده. په همدې حال کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا خاص استازی له افغان ولسمشر حامد کرزی او نورو چارواکو سره د خبرو لپاره افغانستان ته تللی دی او پرون د ملګروملتونو جګ پوړي ډیپلوماتان هم د افغانستان د وضعیت د څېړلو لپاره افغانستان ته روان شول .
د بریتانیا حکومت پرون اعلان وکړ، چې د افغانستان او پاکستان لپاره د بریتانیا خاص استازی په اوږدې رخصتۍ ځي.
د ا په داسې حال کې ده، چې راپورونه وایي دی دیپلومات په افغانستان کې د وسله والومخالفانو پرضد ستراتیژۍ پر سرد ناټو او د امریکا له متحده ایالاتو سره اختلاف پیدا شوی او استعفا یې کړې ده.
شیرارد کوپر کولس، چې پخوا په افغانستان د بریتانیا سفیر وو، د بریتانیا مخکنی د کارګر ګوند حکومت د تېر کال په فبروری میاشت کې په دې مقام ګومارلی وو.
هغه دنده لرله، چې د افغانستان او پاکستان په اړه د امریکا او نورو هېوادونو پالیسي هماهنګه کړي.
د بریتانیا د بهرنیوچارو وزارت په یوه بیان کې ویلي، چې په افغانستان کې له درې کالو کارکولو وروسته ښاغلي کوپر کولس دې ته اړتیا لري چې په دوبي کې اوږده رخصتي وکړي.
د هغه دنده به په موقت ډول د بهرنیو چارو په وزارت کې د افغانستان او جنوبي اسیا د ځانګې مشره کارین پیرس پرمخ وړي.
د بهرنیو چارو وزارت په بیان کې ویلي، چې کوپر کولس به په مني کې بیر ته خپله دنده په غاړه واخلي.
خو بریتانوي ګارډین ورځپاڼې په خپله ویب پاڼه کې خبر ورکړی چې کوپر کولس په کابل کې د یوه مهم نړیوال کنفرانس تر جوړېدو د مخه له خپل مقامه استعفا کړې ده.
ویل شوي، چې کوپر کولس د ناټو او امریکایي چارواکو سره په وروستیو میاشتو کې د خپل دریځ پر سر لفظي شخړې کړې.
هغه په دې ټینګار کړی چې په افغانستان کې د وسله والو مخالفانو پر ضد هڅې له ناکامی سره مخامخ دي او له طالبانو سره خبرو ته باید لومړیتوب ورکړل شي.
دغه راز ویل شوي، چې نوموړی په افغانستان کې له بل بریتانوي دیپلومات د ناټو له ملکي استازي مارک سیډویل سره هم اختلاف درلود.
په داسې حال کې چې په افغانستان کې د وسله والو مخالفانو پر ضد د ستراتیژۍ پر سر د راپورته شوېو اختلافاتو له امله د افغانستان او پاکستان لپاره د بریتانیا د خاص استازي د استعفا خبره کیږي.
د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا خاص استازی ریچارډ هولبروک له افغان ولسمشر حامد کرزي او نورو چارواکو سره د خبرو لپاره پرون افغانستان ته ورسېد او له رسېدو سره سم یې په کندهار کې د امنیت د ټینګښت او سیمه ایزې ادارې د پیاوړتیا په هدف په یوه کنفرانس کې ګډون وکړ .
نوموړي دغه راز د هلمند مارجې ته هم لاړ، داسې راپورونه هم خپاره شوي وو، چې ګواکې د هغه د سپرلي پر الوتکې وسله والو مخالفانو برید کړی دی، خو وروسته دا راپورونه په واشنګټن کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند فیلیپ کرولي رد کړل.
هولبروک مارجې ته د دې لپاره تللی وو، چې په دې سیمه کې چې د ناټو او امریکایي ځواکو د وروستیو پراخو عملیاتو په ترڅ کې د طالبانو له ولکې څخه ایستل شوی ده، پرمختګونه له نژدې وګوري.
ښاغلی هولبروک به په کابل کې له ولسمشر حامد کرزي او یو شمېر نورو افغان چارواکو سره هم وګوري.
په همدې حال کې د ملګرو ملتو جګ پوړي چارواکي پرون افغانستان ته روان شول ترڅو په دې هېواد کې د روانو حالاتو جاج واخلي.
دا وروسته تردې چې ملګرو ملتونو په وروستي راپور کې روان کال په افغانستان کې د شخړو په زیاتېدو اندېښنه ښکاره کړې ده .
دغه راز ملګرو ملتونو ویلي، چې غواړي په افغانستان کې د بهرنیو کارکونکو شمېر کم کړي.
له دې انکشافاتو سره په یو وخت پرون په افغانستان کې د ناټو ځواکونو د یوې هلیکپټر د راغورځېدو او د نا امنیو په نورو پېښو کې لس بهرني عسکر ووژل شول.
په جنوب کې د هلیکپټر د راغورځېدو په پېښه کې درې استرالیایي او یو امریکایي عسکر او په ختیځو او جنوبي سیمو کې د نا امنیو په نورو پېښو کې د پنځو امریکایانو په ګډون شپږ عسکر ووژل شول.
د دغو سرتېرو له وژل کېدو سره په جون کې د ټولو نړېوالو پوځیانو تلفات ۶۴ تنو ته ورسېدل، دغه راز د بریتانیا پوځیانو ته د تلفاتو شمېر درې سوو تنوته ورسید، په دې سره په روان ۲۰۱۰ کال کې د نړېوالو ځواکونو تلفات څه باندې ۲۸۰ تنو ته رسېږي.

جنګ افغانستان یک اشتباه ...

لوی درستیز نیروها آلمانی جنرال هارلد کویت گفت که افغانستان مانند بالکان باید تحت اداره جهانی قرار گیرد و به حکومت افغانستان آزادی فعالیتهای نظامی و مدنی داده شود، و این یگانه وسیله برای نجات آنکه باید نجات داده شود میباشد.

د اوباما په پټو زندانونو کې ...

هلته چې بندیان په جلا- جلا سړوخونو کې ساتل کیدل او په شپو شپو بې خوبه کول، له چتونو راځوړندول، په سپیوداړل، په وسلو ډارول، لوڅ درول په اوبو کې غوټه کول اوبربښنایې شارټونه ورکول یې معمول (قانون) دی. پر دغو بندیانو دطالبانو سره دهمکارۍ تورووخو پر یوه یې هم ثابت نه شو. داهغه بدنام زندان دی چې په ۲۰۰۲ز کال کې دوه تنه بندیان دامریکایي عسکرو له خوا د راځوړندولو او وهلو له امله پکښې شهیدان شول.

Le Nouvel Observateur ورځپاڼه دبګرام څخه ددریو تنو ازاد شوو افغان بندیانو له قوله لیکي چې: د کابل ولایت اوسیدونکي دي په تېروڅلورو کلونو کې یې اسمان نه ؤلیدلی اوس ورته عجیب ښکاري، هغوی دبګرام دتیاره زندان په بندوپخوو کوټو کې په داسې قفسونو کې اچول شوي وو چې نه یې خوب پکښې کولای شوای اونه هم سم پکښې دریدلی شوای .ددغو ازادو شوو بندیانو له ډلې څخه احمد هغه څوک دی چې کورنی یې فکر کاوه هغه (احمد) پخوا لامړ شوی دی خو خبرنه وو چې احمد اوس هم ژوندی او د امریکایانو سره دبګرام په زندان کې بندي دی. یو بل ازاد شوی تن حاجي ګل رحمان دی چې دمخ غاښونه یې څوکاله مخکې دامریکایي عسکروله لوري دوهلو ټکولو پر مهال مات شوي دي .هغه وایي :کله چې په لومړي ځل دبګرام زندان ته بوتلل سونو دامریکایانوله خوایخچال ته ورته په سړه کوټه کې په خنځیرونو تړلی تردډول ډول شکنجو لاندې ساتل کیده په داسې حال کې چې دبګرام دساړه ژمي ترټولو سختې سړې شپې اوشپې وې .ګل رحمان وایي: دهغې حادثې له امله چې له ده سره یونیول شوي بندي دزندان دساتونکوله خواتر څلور ورځو پرله پسې راځړولو وروسته ساه ورکړه سخت ځوریږي . نوموړې ورځپاڼه لیکي چې داسیرانو سره دا ډول بې رحمانه کړنې په امریکایي زندانونو کې دیومنل شوي معیارپه توګه ترسره کیږي .
بلخوابیا ویل کیږي چې امریکادبګرام زندان چارې افغانانو ته سپارې ګویاچې وښیې افغانستان یوخپلواک هیواددی هرڅه یې افغانان پخپله ترسره کوي که څه هم امریکایي ځواکونه وایي چې دبګرام زندان واک به افغانانوته ورکوي خوفکرنه کیږي چې دنوموړې زندان ټولې چارې دي دکابل ادارې ته حواله کړي .دبلګې په توګه دافغانانودنیولو، بندي کولو اوبیایې تراوږدې مودې پورې په همدې تعذیبځایونو کې د دساتلو واک اواختیاربه بیاهم دبهرنیانو په لاس کې وي نه دافغانانو، دکټونکو په اند دکابل اداره به یې یوازې دځارنې چارې سمبالوي وبس.
اوبامادولسمشرۍ دټاکنو پرمهال په پرله پسې توګه داژمنې تکراروله چې ټول بدنام وحشي زندانونه په ځانګړې ډول ګوانټانامواو..... به تړې څکه دامریکااعتبارته یې په نړیواله کچه تاوان رسولی دی .ولې متأسفانه چې تراوسه لاګڼ شمېرافغانان دوی سره د شک او شبهې پر بنسټ دګوانټانامو، بګرام اونورو پټو او ښکاره زندانونو په تورو تیاروکې د هر ډول قانوني، حقوقي او بشري نورمونو او ارزښتونو خلاف له کلونو کلونو راهیسې بې پوښتنې پراته دي چې نه یې دکابل رژیم په اړه فکرکوي اونه یې هم په درځنونو د بشري حقونو د دفاع په نوم ټولنې غم خوري .

افغانستان او پاکستان له ...

ډلې سره روغې ته لیواله نه دی.
د سراج الدین حقاني ډله په وزیرستان کې ده او واشنګټن باور لري چې دغه ډله د افغانستان په ښارې سیمو کې په بمي او انتحاري بریدونه کې لاس لري او د سولې او ثبات زیارونه تهدیدوي.
واشنګټن پوسټ لیکي چې د امریکا د استخباراتو مرکزي اداره، سي آی اې او پوځ په دې باور دی چې د پاکستان استخبارات د حقاني له ډلې سره تماس لري او احتمالا مرستې هم ورسره کوي.
خو پاکستاني چارواکي وایي، چې حقاني اکثرپه افغانستان کې وي او د دوی ورسره کوم تماس نشته، مګر کولای شي، د حقاني له ډلې سره خپلې پخوانی اړیکې بیا را ژوندی کړي او په دې سره به د مخالفینو نورې ډلې هم سولې او روغې ته وهڅول شي.
ځینې سیاسي څارونکي په دې باور دي، چې د حقاني ډلې جنګی تکتیکونو او له پاکستان سره د ده نژدې والی د ده او ملاعمر ترمنځ اړیکې خړې پړې کړي دي .
واشنګټن پوسټ لیکي، چې امریکا افغان او پاکستاني چارواکو ته څرګنده کړې، چې د حقاني له ډلې سره د خبرو ملاتړ نه کوي.

امریکا د افغانستان جګړه ...

څخه یې افغانستان او سیمې ته سفرونه کړي دي.ده د سي بي ایس ، سي این این او نورو رسنیو لپاره هم راپورونه چمتو کړي او خپاره کړي دي.
وان دیک په اتیایمه لسیزه کې د شوروي اتحاد په وړاندې د افغان مجاهدینو د کارنامو په باب د راپورونو د ثبتولو لپاره په افغانستان کې اوسېده .ده په هماغه وخت کې د افغان مجاهدینو د هلوځلو په باب هم کتاب لیکلی وو.
وان دیک وایي چې د پاکستان د پوځ سرچینو ورته ویلي چې د دوی هدف دا دی چې د امریکا په پیسود طالبانو ملاتړ وکړي او په همدې پیسوافغانستان بېرته طالبان ونیسي.
دی همداراز وایي چې پاکستان له طالبانو څخه د خپلو جیوپولیټیکو هدفونو لپاره کار اخلي ځوپه سیمه کې د پښتنود ملتپالنې د بیا راویښېدو مخه ونیسي.
پاکستان د لندن د تحقیقاتي انستیتیوت هغه راپور رد کړ چې ویلي یې وو پاکستان د وسله والو طالبانو ملاتړ کوي.
وان دیک وایي د شخړې د پای ته رسولو لپاره امریکا ته وړاندیز کوي چې د پاکستان مخه ونیسي.دی وایي زه به له پاکستانه مستقیماً وغواړم چې د طالبانو له مالي او تسلیحاتي مرستې لاس واخلي، د امریکا په پیسو د امریکایانو وژنې پای ته ورسوي،د افغانستان د نیولو لپاره له خپل هدفونه لاس واخلي،هاله به موږ له افغانستانه خپل ځواکونه وباسو.
دی وایي چې د افغانستان جګړه بې هدفه ده ،امریکا باید د افغانستان د بیارغونې لپاره مرستې وکړي .

مؤسسهٔ راند: پاکستان هنوز ...

استراتیژی نا موفق حکومت تحت حمایت امریکا در پاکستان است زیرا نتوانسته است از مداخله گروه های شورشی در این کشور جلوگیری کند.
قرار است این گزارش نشر شود. در بخشی از این گزارش موسسه راند می گوید، بمب گذاری ناکام در چهار راه تایمز نیویارک به تاریخ اول ماه می یکی از مثال های است که نشان می دهد، برخی گروه های شورشی در حمایت حکومت موازی، به صورت گسترده می توانند تا تروریزم را به مناطق دور از سرحدات این کشور صادر کنند.
موسسه راند هم چنان می نویسد، ایالات متحده امریکا آنچه را که در بدل تعهد میلیارد ها دالر کمک از پاکستان انتظار داشت، از این کشور مسلح با سلاح هسته یی بدست نیاورده است.
سیت جانز نویسنده مقاله در موسسه راند و کریستین فیر از پوهنتون جورج تاون امریکا می گویند، ایالات متحده باید از کمک ها به پاکستان تازمانی خودداری کند که این کشور پیشرفت های را از خود نشان دهد.
این گزارش می گوید :
ایالات متحده پیشرفت های محدودی در تشویق پاکستان جهت قطع ارتباط این کشور با تندروان داشته است، در حالی که اردوی پاکستان به پیروزی های محدودی در عملیات نظامی علیه شبکه های تروریستی در سال گذشته داشته است.
گزارش ملاحظاتی دارد که پاکستان چگونه اهداف امریکا را برای از بین بردن بعضی تروریست ها پیش برده است و بعضی اوقات منافع امریکا را در عین زمان تحت سوال قرار داده است.
این گزارش اشاره دارد که رهبران متعدد امریکایی به این باورد اند که احساسات ضد امریکایی در پاکستان زیاد است، در حالی که حمایت از مبارزه حکومت این کشور علیه شورشیان کم بوده است.
موسسه راند همچنان می گوید که ایالات متحده باید به پاکستان تکیه کند و ضمناً برای انتقال تدارکات خود برای جنگ افغانستان به راه های بدیل فکر کند .
به گفته این موسسه، شاید یکی از راه ها ایران بوده بتواند. ایران و ایالات متحده در سه دهه گذشته هیچگونه روابط دپلوماتیک ندارند اما تهران در سال ۲۰۰۱ میلادی، پس از حضور نظامی امریکا در افغانستان تعهد کرده بود که با این کشور کمک خواهد کرد.